# د افغانستان په مدني ټولنه کې د ښځو ګروپونه

ښځې او نارينه ګان د مدني ټولنې په مؤسسو کې د مساويانه ګډون ونډې لپاره کار کوي

**د کاونټرپارټ نړيوالې مؤسسې لپاره**
**د سيپي آذربايجاني مقدم څېړنه- کابل، ۲۰۰۶م**

---

# گروه های زنان در جامعۀ مدنی افغانستان

زنان و مردان به سهم گیری مساویانه در سازمان های جامعۀ مدنی مشترکاً فعالیت می نمایند.

**تحقیق برای سازمان کاونترپارت انترنشنل صورت گرفته است.**
**تحقیق کننده: سیپی آذربایجانی مقدم – کابل ۲۰۰۶ م**

# د افغانستان په مدني ټولنه کې
# د ښځو ګروپونه

ښځې او نارینه ګان د مدني ټولنې په مؤسسو کې د مساویانه ګډون ونډې لپاره کار کوي

**د کاونټرپارټ نړیوالې مؤسسې لپاره**
**د سیپي آذربایجاني مقدم څېړنه- کابل، ۲۰۰۶م**

# د مطالبو فهرست

لنډيز ........................................................................ ۱
امنيت ........................................................................ ۴
اقتصادي چاپېريال ........................................................ ۵
محافظه کاري يا خپلو رسمونو او دودونو ته پابند پاتېدنه ........... ۶
مدني ټولنه او دولت ..................................................... ۷
د دولت جندر پاليسی .................................................... ۸
د ښځو حق په پارلمان کې .............................................. ۹
د ښځو ملي تشکيل ....................................................... ۱۰
لومړنۍ ښځې .............................................................. ۱۴
ښځې په ګروپونو کې .................................................... ۱۵
په ادارو او مؤسسو کې جندر .......................................... ۱۷
ښځې په شبکو کې ........................................................ ۲۰
د ښځو او نرو جندر اړيکې ............................................. ۲۰
نارينه ګان(او ښځې) په جرګو کې ..................................... ۲۳
ښځې په جرګو کې ........................................................ ۲۴
نارينه ګان او ښځې په کليوالي پرمختيايي جرګو کې ............... ۲۶

د ځواک او رهبرۍ کولو بنسټ........................................ ۲۸

وروستۍ خبرې– د بدلون له پاره فرصتونه ............................ ۳۰

د عايداتي توليد د پروژو په کچه د جندر د اقتصادي منابعو په دويم ځلي وېش کې غوره والی را وستل............................................ ۳۱

د وړو پورونو د ورکړې په کچه د جندر د اقتصادي منابعو په دويم ځلي وېش کې غوره والی را وستل ............................................۳۲

د ښځو د ميراث د حق ورکولو د ملاتړ له مخې د جندر د اقتصادي منابعو په دويم ځلي وېش کې غوره والی را وستل.................................. ۳۲

د رسنيو رول– نمونه يي او کليشه يي رول ..................................۳۳

ښوونه او روزنه او د سواد کچه........................................ ۳۳

له مذهبي علماوو سره د بحث کولو توان لرل............................ ۳۴

ځوان هلکان او نجونې ................................................. ۳۵

## لنډیز

په افغانستان کې د زیاترو ښځو حالت د پرمختګ د ډېرو افراطي شاخصونو په وسیله منعکس شوی دی – هغه دا چې اوس هم په دغه هېواد کې د میندو د زېږون پر مهال د مړینې کچه د نورې نړۍ په پرتله تر ټولو لوړه ده– او د دولت د ژمنو سره سره د زریزې د پرمختیایي هدفونو پرمختګ بطي دی. له دې سره سره د ښځو د حقونو په اړه د افغان دولت اوسنی ریکارډ: د ښځو د چارو وزارت، په ملي کچه ښوونځیو ته د نجونو د لېږنې کمپاین، د ښځو لاس رسېدنه روغتیایي خدمتونو ته، په کابل کې د ښځو ښه ځرګندېدنه، د ښځو موجودیت په مشرانو جرګه او ولسي جرګه کې او همدا راز د ادارې په نسبتاً ټولو کچو کې د ښځو نسبي ګډون دا ټول د ښې راتلونکې هیله ځرګندوي. د افغانانو له خوا پخپله د چارو د سنبالښت له ډېرو هېلو سره سره، د ولسواکۍ حرکت په ځانګړې ډول د ښځو له پاره تر دې مهاله پورې لا هم ډېر کمزوری دی. ټولنیزې او سیاسي خبرې اترې د ښځو د ټولنیزې ونډې په اړه د جنسي توپیرونو د بدلون نه منونکو مفکورو پر اساس کېږي " هغه ځواکمنه  مناقشه چې ښځې پکې مختلفې ښودل کېږي– مختلف زیاتره وخت د قانوني حیثیت او حقونو له مخې د پرېوتي یا پست په معنی ده– د ښځو د بریاوو پر وړاندې خنډونه نور هم پیاوړي کوي" (مقدم ۲۰۰۳).  د جندر مساوات ټولنیز ارزښت او حق دی، چې د ساتنې اساسي وسیله یې باید دولت وي. او تر دې مهاله پورې لا هم د افغانستان د دولت زیاتره بنسټونه او ادارې د ښځو لپاره محدودې دي او یا هم تر دې مهاله پورې د پخوانیو جنګسالارانو یا ددوی د استازو مستقیم نظامي موجودیت ددې لامل ګرځېدلی چې د ښځو مخه یې نیولې ده. زیاتره خلک د مدني ټولنې مؤسسو ته سترګې په لاره دي چې د ښځو د حقونو او د جندر مساواتو په اړه کار وکړي.

لکه په کندز ولایت کې چې د احمدزیو جرګه په لنډه توګه د دولت او مدني ټولنې تر منځ اړیکې توضیح کوي:

"ملت له دولت څخه دی او دولت له ملت څخه." یعنې خلک په دولت پورې اړه لري او دولت په خلکو پورې اړه لري.

په ټولیزه توګه، مدني ټولنه د مؤسسو یوه پراخه ټولګه ده چې د عامه خیرښېګنې له پاره کار کوي چې د جندر مساواتو پر وړاندې یې تګلاره او د پوهې کچه یې نسبتاً ښه ده. په

مدني ټولنه کې د ښځو انفرادي او مجموعي استازيتوب تر دې مهاله پورې د ټولنيز– فرهنګ او د دندو پر وړاندې پرتو خنډونو له امله کمزوری موقعيت لري. په مدني ټولنه کې د ښځو موقعيت لا هم کمزوری دی او دا واضحه نه ده چې د احمدزيو د جرګې په بيانيه جمله"خلکو" کې ښځې شاملې دي او که نه.

په ټوليزه توګه جندر پورې ډېرې منفي معاملې مخکې له مخکې ترل شوې هم دي، چې زياتره نارينه او ښځې ددغه مفهوم په اړه چې په پښتو او دري کې ورته هېڅ ډول نوم نشته، د فرهنګ سره په ترون تر پوښتنې لاندې راولي.  په داسې يوه حالت کې، کاونټرپارټ نړيوالې مؤسسې او مشاورينو احساس کړه چې د ښځو د مؤسسو او په ټولنيز ژوند د ښځو د ګډون پر وړاندې د پرتو خنډونو او په دې کار کې د نارينه وو د بوختياوو د مطالعې له مخې ښايي له دوی سره په لوړه کچه مرستندوی وي چې په مدني ټولنه کې د آيپکس په ترينګونو او د ظرفيت لوړولو په پروګرامونو کې د جندر مساوي او اغېزمن ګډون تأمين کړي. ددغې څېړنې اساسي هدف دا دی چې د مدني ټولنې د هغو مؤسسو او د ښځو د ډلو لپاره چې غواړي د جندر د مسؤوليت په تګلاره ګام واخلي د دوی لپاره ليدلوری او لارښوونې برابرې کړي.

په ساحوي کچه د تګلارې (ميتودولوژۍ) يا ددغه څېړنيز ريپوټ تسهيل د افغان مدني ټولنې د پياوړتيا نوښت (آيپکس) پروګرام د اړوندو د مدني ټولنې د پرمختګ د ارتباطي مؤسسو (ISOs) او د مدني ټولنې د ملاتړ د مرکزونو (CSSCs) په مرسته شوی دی.

د مدني ټولنې د ملاتړ مرکزونو د مدنی ټولنې د مؤسسو په اړه لارښوونې وړانديز کړې چې ددوی په اند د مدني ټولنې مؤسسې به د څېړنې لپاره د کار وړ معلوماتي سرچينې وي. انتخاب په تصادفي توګه و. په اتو ولايتونو کې له دېرشو زياتې مؤسسې وکتل شوې. په افغانستان کې له خلکو سره د مشاور د يوې لسيزې څخه د زياتې تجربې پر اساس د نيمه –ترکيبي مرکو د تخنيک له مخې  د يوه وړاندني طرح شوي چک لست په وسيله له خلکو معلومات را ټول کړل شول. په دغه څېړنه کې باکيفيته معلومات کارول شوي او په دې څېړنه کې د مرکچيانو له خوا د ځينو دعواوو او برابرو شوو معلوماتو په اړه د ملاتړ هېڅ ډول تناسبات نشته.  مشاور په فعاله توګه د مدني ټولنې د ملاتړ د مرکزونو له ګډونوالو کارکوونکي وهڅول چې له دوی سره يو ځای شي او د مرکو پر مهال پوښتنې مطرح کړي.

په ټوله نړۍ کې د اساسي مباحثو څخه تر ټولو په زړه پورې یوه کلیوالي– ښاري مباحثه ده، چې په کلیشه یې ډول تکمیلیږي. چې په دې مباحثه کې ښاري شخص په ټولیزه توګه لوستی، خولور، روښان فکره او تر یوه حده پورې ځیرک وي، په داسې حال کې چې دده کلیوال ملګری نالوستی، وروسته پاتې، ساده او د پخوانیو دودونو پابند دی. که څه هم دا ثابته ده چې داسې کرښې او حدود تر اوسه نه دي تعیین شوي چې څرګنده کړي چې په کوم ځای کې ښار پای ته رسېږي او کلیوالي ساحې پیلېږي، په افغانستان کې چې خلک خبرې، فکر او یا هم کوم کار کوي داسې انګېرل کېږي لکه دلته چې کوم حدود معلوم وي. دغه بحث د مدني ټولنې او د جندر په مسایلو د بحث په اړه څرخېده او زیاتره وخت ددغې څېړنې د ترسره کېدو پر مهال یې شواهد څرګندېدل. کلیوالي ښځې د خپلو بېګناهیو پر وړاندې لکه وړې ماشومانې داسې لیدل کېږي، په داسې حال کې چې ښاري ښځې تر یوه حده پورې د آزادۍ په ګناه ککړې دي. ښاري سړي داسې احساسوي چې کلیوال خلک تر حده زیات خپلو پخوانیو دودونو ته پابند دي او دا چې دوی د جندر اړوندو مسایلو په اړه د هر ډول خبرو اترو په کلکه مخالف دي. دغه مفکورې د هغو خلکو له پاره چې له دوی سره لوی شوي دي ثابتې او نه بحث کېدونکې پاتې شوې دي.

د افغانستان په تاریخ کې، ښاري او ممتاز تعلیم یافته ګان، د کلیشه یي خلکو لپاره د یوه لنګر حیثیت لري، دوی د خلکو په خاص ډول د ښځو او نجونو لپاره هر وخت پرېکړه کړې چې څه شی ورته مناسب دي. سیمه ییزو ټولنو دغو مفکورو او پلانونو ته د خپلځاني پخوانیو کلیشه یی عقیدو او مفکورو له مخې پایښت ورکړی. کمونست رژیم کلیوالي او لرې پرتو سیمو ته د وروسته پاتې سیمو په نظر کتل او د عصریتوب اړتیا یې ورته احساسوله، خو د طالبانو رژیم بیا غوښتل چې ښاري په فساد ککړ خلک بېرته کلیوالي سوچه او اډیالو خلکو ته را واړوي. په دغه مباحثه کې، د ښځو موضوع تل ډېره حساسه وه، ځکه چې ددوی کره وړه، جامې، آزادي او داسې نور شیان د ښځو د پرمختګ د شاخصونو (انډیکاټورونو) په توګه کارول کېدل. دغه عمومي کېدل تل د جندر د تحلیل او تجزیې لومړنۍ سطحه جوړوي او د بهرنیو خلکو له پاره یې د یوه حقیقت په توګه وړاندې کوي. د دغه ډول ساده (تورو سپینو) او د خلکو د جندري

ربښتنیولیو د کړو وړو له مخې د مفکورو منل او کارول، پرته له دې چې په اړه یې پوښتنې وکړو، دا به د جندر اصلي مسیر ته د را ګرځولو لپاره ښه بنسټ را منځته نه کړي.
دغه لاندې قرینه یی مسایل دي چې د جندر په اړیکو یې ژورې اغېزې ښندلې دي:

**امنیت**

د افغانستان ځینې ولایتونه د پخوانیو جګړو په دوره او حالت کې دي او ځینې برخې د جنګ جګړو او ناکراریو له فعالیتونو څخه لا تر دې دمه پورې اغېزمنې دي. د جرمونو عام کېدل او په فساد کې د پولیسو ککړتیا هم د ناامنۍ لامل ګرځېدلې. ناامني د خپلو ټولو پټو څېرو سره د نرو او ښځو افغانانو له پاره چې په مختلفو ډولونو ترې اغېزمن شوي دي د پرېشانۍ وړ مسأله ګرځېدلې. افغانستان تر دې دمه پورې په پراخه کچه په وسلو سمبال ټولنه ده. په افغان ټولنه کې لا تر اوسه هم د ټوپک کلتور راج چلېږي او همدا راز دا په سرېو پورې تړلې ټولنه ده. په دې سربېره، زیاتره نړیوالې مداخلې له ۱۸۰۰ مو کلونو را پدې خوا یوازې او یوازې په سیاسي جغرافیه پورې اړوند او نظامي وې او د ښځو مسایلو ته ددغو پاملرونو په لړ کې دویم ځای ورکړل شوی و، چې د ۲۰۰۱م کال د طالبانو پرخلاف جګړه کې د ښځو مسایل هم د نورو مسایلو تر څنګ د یرغل د دلیلونو په لست کې ځای پر ځای شوي وو.
نران د هېواد رعیت او مستعد عسکر دي په داسې حال کې چې ښځې معصومې دي او ساتنې ته اړتیا لري. دغه اړیکې د کلونو جنګ له امله نورې هم خرابې شوې دي، چې د خلکو په روح او روان کې په ژوره او ذاتي توګه څرګندېږي، چې د جندر په اړیکو یې ژوره اغېزه کړې ده. زیاترو نارینه وو مرکچیانو داسې احساس کاوه چې ښځې تر هغه مهاله پورې په یوه ځای کې غونډه نه شي کولی تر هغې چې ددوی له پاره سوچه کلتوري فضا نه وي را منځته شوې چې خپلې غونډې په کې ترسره کړي. په ځینو ټولنو کې، د نظامي او سیاسي هغو مشرانو موجودیت چې په فساد ککړ دي، په ژبنۍ توګه د ښځو له پاره جوړ شوی محیط خرابوي. دا د ټولنې د نارینه وو مسؤولیت دی چې ښځې له دغه ډول تهدیدونو څخه وساتي او که ضرورت پېښ شي نو قانون ماتوونکو ته د سخته جزا ورکړي. چې دا بیا د سوچه توب او ککړتیا، د شخصي او عامو او دا چې څه ډول ښځې ددغو دواړو تر منځ خپله لاره وموميـ په هکله د پېچلیو عقایدو پر بنسټ نظرونه

وړاندې کوي. په دې سربېره، ښځې نه یوازې باید ښکاره امنیتي خطرونه ودروي، بلکې باید په ډېره مبتکرانه او عاقلانه توګه د هر یوځي عمل – د ټوپک له اوچتولو را نیولې بیا له نظامي مشاورینو سره د امنیت په اړه تر بحث پورې– د ټولو کړنو مخه ونیسي، دا ځکه چې په ذاتي ډول پوځ د نارینه وو قلمرو دی. هغه څوک چې دغه ډول اړیکي ولري نو په فساد تورنېږي.

ددغه پس پرده کار پرخلاف، د ښځو د حقوقو د طرفدارانو د نړیوالو ډلو په پراخه کچه هلې ځلې روانې وې، په حقیقت کې، په ۲۰۰۱م کال کې د طالبانو له سقوط وروسته باید هره افغانه ښځه په بون کې د سولې دکانفرانس د مېز تر شا درېدلې وای، خو حال دا چې دوی زیاتې لاسته راوړنې نه لرلې. ښځې ونه توانېدلې چې افغان تاریخ تکرار کړي، چې په تاریخ کې د جنګ پر مهال به ښځې د اوربند په خاطر د خبرو اترو کولو له پاره استول کېدلې. د ښځو دغه ونډه د ښځو د ډلو له خوا په سمه توګه تنظیم شوې او برابره شوې نه ده، که څه هم د شواهدو له مخې د جنګ جګړې پر مهال د ښځو له پاره مثبته ونډه د افغانیت[1] له مخې ورکړل شوې وه. که څه هم افغان مینډې د امنیت د نشتوالي څخه د کلونو مودې را په دې خوا سر ټکوي (ریفنبرګ ۲۰۰۳م) داسې ښکاري چې دوی له نظامي فرهنګ سره د غاړه غړې کېدو په درشل کې دي. له ښځو څخه همدا هیله کېږي چې د ناامنۍ پر وختونو او حالتونو کې خپل مسؤولیت او استازیتوب څرګند نه کړي.

## اقتصادي چاپېریال

افغانستان په نړۍ کې یو تر ټولو بېوزله هېواد دی، او اوسمهال د څه د پاسه دوه لسیزو جنګ جګړې څخه د راوتلو په بهیر کې دی، چې تکیه یې د ګاونډیو بهرنیو هېوادونو په مرستو، زراعت او تجارت باندې ده. د هېواد د اقتصادي ودې یو پر دریمه برخه د تریاکو له تجارت څخه ترلاسه کېږي. د هېواد د نفوسو د بې روزګارۍ کچه ۴۰٪ ده او ۵۳٪

---

*[1]– ستونزمنه برېښي چې د افغانیت او پښتونولۍ تعریف وکړو. دا یوه نه لیکل شوې مقرره ده، چې افغانان او پښتانه یې احترام کوي او په رڼا کې یې ژوند کوي. په ساده ډول د افغان اوسېدلو او پښتون اوسېدلو احساس ته افغانیت او پښتونیت یا پښتونولي وايي.*

تنه د بېوزلۍ د کربښې څخه لاندې ژوند کوي. په دغه حالت کې د ژوند ژواک او یا سوکالۍ له پاره د دندو اشغال په دې معنی دی چې کورنۍ په پراخېدونکې توګه غواړي خپلو ښځو ته د کار کولو اجازه ورکړي. چې دا یو مثبت پرمختګ دی، خو په کاري ځواک کې د ښځو د تعداد زیاتوالی د فشارونو د رامنځته کېدو لامل ګرځي، ځکه چې دا د جندر اړیکو شکل بدلوي. د عوایدو د میندلو داسې لاره چې ژوند ژواک پرې وکړای شي شدید ضرورت، د پایښتیزو اختیارونو سره د خپلې خوښې د باریکو چانسونو موجودیت په دې معنی دی چې د مدني ټولنې د مؤسسو ډېرۍ، په خاص ډول د ښځو ډلې له مرستندویو اړیکو سره ژورې مخکې له مخکې دندې لري. په دې کې هېڅ شک نه شته په هغه صورت کې که په افغانستان کې په پراخه کچه د کار میندنې او اقتصادي ودې حالتونو کې غوره والی راشي نو په ټولنه، د مدني ټولنې په شمول او په ټولنه کې د ښځو ونډه، ښایي د شکل له مخې تغییر ومومي.

**محافظه کاري یا خپلو رسمونو او دودونو ته پابند پاتېدنه**

په افغاني ټولنه کې –د پردې شاته شور– دی چې ښځې او نارینه پکې زېږي، پکې لویېږي او ژوند په کې کوي. چې دا "زموږ د کلتور"، "زموږ د مذهب"، او "زموږ د وروسته پاتې والي" او نورو مفهومونو په توګه معرفي کېږي. چې دا هر څه بیا د هغه شخص چې مرکه ورسره کېږي په ادعاوو پورې اړه لري. محافظه کاري یا کانزرویټیزم تر اوسمهال پورې یو مسلط ځواک دی. د نړیوالې محافظه کارۍ له مخې ښځې په دې نه توانېږي چې خپل حقونه ترلاسه کړي.

"په سیمه کې داسې ناسمې انګېرنې شته چې که ښځې خپل حقونه ترلاسه کړي، نو دوی بد اخلاقه کېږي او خپل مېړونه به پرېږدي." د مدني ټولنې د ملاتړ مرکز CSSC

دا بد ګوماني چې که ښځې خپل حقونه ترلاسه کړي نو ورپسې سمدستي به خپلو مېړونو ته طلاق ورکړي، او دا چې د میراث حق به وغواړي، او دا چې د بد اخلاقۍ رویه به خپله کړي، دا ټول د افغانستان د پرمختګ په بهیر کې د ښځو د ونډو په وړاندې پراته خنډونه دي. ددغو ناانډوولیو د تعادل له پاره، مرکه شوو زیاترو خلکو وضاحت وکړ چې دوی هڅه کوي د مذهبي اشخاصو حمایت په دې اړه تر لاسه کړي. ښځې او په ټولیزه کې ددوی ډلې هڅې کوي چې داسې ستراتیژۍ چې د دید وړ نه وي په کار واچوي او د

خپلو اړیکو د وضعیت په اړه د ننګونو او ستونزو مخه ونیسي، چې په دې توګه محافظه کاري ژوندۍ وساتي. مذهبي چارواکي او د ځواک خاوندان، د نظامي چارواکو په شان د اوس له پاره د ښځو له رسېدنې لوړ دي. مذهبي اشخاص د ټولنې د لارښوونې له پاره یوه مهمه سرچینه ده چې په کورنۍ او ټولنه کې د ښځې د ځای یا مقام په اړه پرېکړې وکړي. په دغسې یوه چاپېریال کې، د نارینه وو او ښځینه وو له پاره د توجیه وړ وېره شته چې د جندر د ستراتیژیکو موضوع ګانو په اړه معاملې وکړي، چې دا معاملې بیا بدلون او ټکر یا مخالفت دواړه لري.

## مدني ټولنه او دولت

په ټولیزه توګه ښځې او سړي داسې ښکارېږي چې د دولت او دا چې دولت به ددوی لپاره کوم کارونه کوي په اړه له خرافاتي او خیالي نړۍ را وځي. د افغانانو په نظر، په دندو د ګومارنې مفسد او د اقربا پروری په بنسټ ولاړ یو سیستم د دولت په ادارو کې کارول کېږي، چې ظاهراً د مدني خدمتونو د اصلاح له پروسې سره سمون نه لري، چې په دې توګه یې ټول بې کفایته او مفسد خلک ځای پرځای کړي دي، په ځانګړې توګه په ډېرو لرې پرتو هغو سیمو کې چې له منظم تفتیش څخه لرې دي. په مدني ټولنه کې ښځو ته د خپل حق د غوښتنې او د سرچینو د تر لاسه کولو لپاره د منظمو داسې بنسټونو چې د دولتي ادارو څخه یې ملاتړ شوی وي او ملاتړ یې کېږي موجودیت ته اړتیا ده. له سیاسي پراخو متحدینو پرته چې کولای شي زیات شمېر عامو ښځو ته لاس رسي ولري، ښځې نه شي کولای په یوازې صورت د خپلو حقوقو مقامونو چې د تعریف په نړي تار تړل شوي دي د لاسته راوړلو هلې ځلې وکړي (کانډیوټي ۲۰۰۶م). په دې اړه، د افغانستان حالت څرګندوي چې په پراخه کچه د غوره والي له پاره فضا شته. د هغو ښځو په اړه چې په وزارتونو کې کار کوي په پراخه کچه داسې باور کېږي چې دوی ځواک نه لري او ددوی په کار ګومارنه یوازې او یوازې د یوه سمبول یا نښې په څېر ده، چې په دې توګه له دوی سره د یوځای کېدو لپاره ستراتیژیکې ګټې نه ترسترګو کېږي. د مدني ټولنې ځینې ښځینه مؤسسې داسې فکر کوي چې دوی د دولت له سیمه ییزو مقاماتو لکه د ښځو د چارو د وزارت له ریاست سره په رقابت کې دي. د طالبانو له سقوط څخه پنځه کاله وروسته، ځینې نارینه ګان د هېواد په تعلیمي ادارو کې په څرګند ډول د ښځو

سپکاوی کوي او یا دا چې د خپلو دښمنۍ څرګندوي، چې په دې توګه زیاتره ښځې د هېواد تعلیمي ادارو ته د رسېدو په اړه په اضطراب او پرېشانیو کې دي. هغه ښځې چې ډېر ازادې دي او د کورنۍ او د دفتر د کار په کچه له نارینه وو سره ښې اړیکې لري، هغوی بیا نه غواړي چې خپلې دغه ډول پرېشانۍ له نورو سره شریکې کړي.

## د دولت جندر پالیسۍ

د دولت د جندر پالیسۍ د ښځو د پردې شاته امنیتي نازکو حالتونو پر خلاف دي ، دولت د کمزوري او عنعنوي کړندود پر بنسټ د جندر یو لړ پالیسۍ را منځته کړې دي. چې په دغو پالیسیو کې د ښځو د چارو وزارت را منځته کېدل او په پارلمان کې جندر اصلي مسیر ته راګرځول دي چې دا خبره یقیني کړي چې پارلمان ته له هر ولایت څخه ښځې انتخاب شوې دي. ښځینه کارمندانې په ټولو وزارتونو کې په کار ګومارل شوې دي، خو "د ښځو مسایل" تر دې دمه پورې د سیاست او معاملاتو مهمه وسیله او مهره ده، چې د اسلامپالو قوتونو او نړیوالې ټولنې د فشارونو تر منځ واقع دي. افغانستان د یوه ګواښوونکي چاپېریال استازیتوب د هر پلان جوړوونکي لپاره کوي، او په دغه هېواد کې زیات شمېر د هر اړخیزې د جندر اصلي مسیر ته د را ګرځولو هڅې تر سترګو شوې دي. تاریخ پخپله تکرارېږي او موږ دوه سخت دریځه اړخونه پخپلو سترګو ګورو چې یو لوری د هوساینې پروژې دي چې د زیات شمېر ښځینه وو لپاره دي او په ډېر بطي ډول مخ پر وړاندې په حرکت کې دي، چې تمرکز یې په روغتیایي او ښوونیزو چارو د وړو نجونو لپاره دی. او دویم ډول یې چې په ډېره چټکه توګه وړاندې تګ کوي، یوه پرکاره پروسه ده، چې د ممتازو ښځو له پاره کار کوي. داسې اساس چې اوږدمهالي پروګرامونه چې جندر اړیکو ته بدلون ورکوي نه تمویلوي، ښایي دا یوه برخه د پلانګزارۍ او د تطبیق د مهارتونو نشتوالی د " په لوړه کچه د سیاسي دخیلو خطرونو درک او دا پرېشانۍ چې ښایي د ښځود شمولیت لپاره معکوسه نتیجه ورکړي او یو د دوی لپاره کنګل شوې رویه را منځته کړي" (کانډیوټي ۲۰۰٦)، د کړو وړو داسې یو طرز چې ددغه ریپورټ په پیل کې د بحثونو سره په اړونده موضوعاتو کې تشریح شوی دی. نو په پای کې ویلی شو چې دغه لنډمهالي او د لید وړ پروګرامونه ډېر وختونه په اوږدمهالو او پایښتیزه پروګرامونو ور اوړي او ځای یې نیسي.

## د ښځو حق په پارلمان کې

د ښځو د رهبرۍ حق– یا د پارلمان د غړو په توګه د ۲۰۰۴م کال د اساسي قانون په (۸۳مه ماده، ۵م څپرکي، ۳ او ۴) مادو کې خوندي شوی دی. په ولسي جرګه کې ۶۹ ښځې او په مشرانو جرګه کې ۲۳ ښځې غړیتوب لري. په افغانستان کې د ټول ټاکنو پرمهال د جندر د ونډې د تخصیص په اړه د نړیوالې ټولنې د غړو او د افغاني اشخاصو او هم د یو شمېر مهمو ښځینه ډلو له خوا پرې تأکید وشو. یو شمېر زیاتو ښځینه کاندیدانو د مثبتې طرفدارۍ یا تمایل هرکلی ووایه، او ځینې نورې یې په دې نظر وې چې ښایي له بهرنیو مرستو پرته ښځینه کاندیدانې ښې بریالۍ وي. په پارلمان کې د دومره شمېر ښځینه و حضور د دغه ډول مالي او فردي لګښت په مقابل کې باید یو مثبت بدلون د هغو خلکو له پاره چې په افغانستان کې د جندر اړیکو د بدلون او تساوي په اړه کار کوي. خو وړاندې تګ ډېر ورو دی.

د بدلون اصلی استازي د خپلو طبیعي کانالونو له لارې د خپلو ملګرو تر منځ د احترام وړ دي او په دې توګه یې د هغوی د رهبرۍ یا سرمشرۍ مقام ترلاسه کړی دی. ښځې چې په ټولیزه توګه د ټولنیز مرکزیت[۲] له اهمیت څخه بې برخې دي، ددغه ډول کانالونو له تشکیل څخه منع شوې دي. هغوی ته معمولاً د ټولنو، قبیلو او یا هم ارتباطي ډلو د مشرانو په سترګه نه کتل کېږي چې په طبیعي بڼه ددوی د تشکیلاتو د غیابت لامل ګرځېدلې ده. افغان ښځې په ټولیزه توګه " یو اړوند یا ارتباطي حالت او وضعیت لري او ډېرې کمې لیدل کېږي چې په سیاسي قلمرو کې آزاد فعالیت ولري"(ایډوارډز ۱۹۹۶).

د افغانستان په پارلمان کې د ښځو د پام وړ شمېر زیاتونه د جندر اصلي مسیر ته د راګرځونې د حرکت په حیث وړاندیز کوي چې په افغانستان کې د کاري ساحې له پاره، ننګونې، مذاکرات او بلاخره د ددغې پروسې د دویم ځلي تعریف د جندر د اصلي مسیر ته د راګرځونې له پاره مناسب ګڼل کېږي. مګر په افغانستان کې د قدرت او دولت کې د ونډې اخیستنې په موضوع د جندر د هغو اصطلاحاتو له مخې چې نارینه وو ته په کې

---

۲ – "ټولنیز مرکزیت د ټولنیزو مؤسسو ترکیبونو او خصوصیاتو ته لکه شبکه، مقررات، او ټولنیز اعتماد او باور چې ګډه همکاري او ګډون ونډه کې مشترکې ګټې آسانه کوي، راجع کېږي " رابرټ پوټنام

زيات تمايل کېږي ځېړل کېږي، چې دغه ډول مفکورې تل له ناکامۍ سره مخ کېږي (ايډوارډز ۲۰۰۲). په دغه بحث کې ښځې نږدې چې د سرمشرۍ د حقوقو ترلاسه کولو په لړ کې له ناکامۍ سره مخ شي.
په افغانستان کې پرته له دې چې د ښځو وضعيت په نظر کې ونيول شي، دوی معمولاً د کورني چاپېريال او خصوصي اړيکو په چاپېريال کې محدودې پاتې شوې دي، چې همدا بيا ددوی فعاليتونه او په خاصه توګه د دوی د عزت ساتنه کنترولوي. د افغانستان په پلار سالاره ډيموکراسۍ کې، عام ژوند، سياست او يا هم د رهبرۍ پوستونو ته د ښځو ور شاملېدل د جندر او مثبت تمايل پر اساس کېږي، چې په دې توګه دغه کار معمولاً ددې جوګه نه دی شوی چې د جنسيت پر بنياد ولاړې پاليسۍ خپلو کورونو ته داخلې کړي او دغه پروسه پر خپل ذاتي شکل د هېواد په اداري سيستم کې پربږدي. همدا راز دا هم اټکل شوې ده چې هغه څوک چې سياسي دفتر ته ننوزي، نو دغه ډول کار ته ادامه ورکوي چې په دې توګه د ښځو د هيلو د ترسره کېدا استازيتوب وکړي( تامسن ۲۰۰۱) او دا چې دوی تخنيکي مهارتونه او سياسي پوه او درک لري، چې څه ډول کولی شي برياليتوبونه ترلاسه کړي. په ټوله نړۍ کې، دا يو ناسم اټکل دی، په دې معنی چې دفترونو ته د زياتو ښځو ورتلل، تل له دې سره برابره نه ده چې د پاليسۍ په کچه د جندر جريان سازي را منځته کړي. په پارلمان او د دولت په مشرتابه مقامونو کې د ښځو ور شاملېدل، ددې لامل ګرځي چې ښځې په ممتازو کورنيو او ډلګيو حاکمې وګرځوي، خو نه دا چې دوی په ټوليز سياسي ځواک چې ٪۷۰ – ٪۸۰ نالوستې طبقه ده حاکميت ولري. له اتحاد جوړونې او شبکې رغونې پرته، ډيموکراسي چې دغه مهال د پخوا په څېر په زور او جبر څارل کېږي، به په اتوماتيکه توګه د مدني ټولنې، د جندر اصلي مسير ته د راګرځولو او يا هم د ښځو د حرکت خدمت ونه کړي.

## د ښځو ملي تشکيل

د ښځو چارو وزارت د پخوانيو شخړو او د هېواد رغونې د بهير له پېچلو او ستونزمنو حالتونو سره سره، په ملي کچه ددغه وزارت را منځته کېدل يو لومړنی حرکت و، چې د ښځو ملي تشکيل را منځته شي. دا به د مدني ټولنې د مؤسسو له پاره چې د جندر او ښځو د مسايلو په اړه کار کوي د طبيعي اتحاد حيثيت لري. دغو ګروپونو د ښځو د

چارو وزارت په شمول  په ډېره ستونزمنه توګه وکولی شول چې د حکمفرما نارینه وو تصمیم نیوونکو ځایونو ته د دولت په دننه کې د بیوروکراسۍ سره سره  لکه د پلان او یا هم د مالیې وزارتونو او د جمهور ریس دفتر ته ځان ورسوي.  د هېواد په حکومتي جوړښتیزو ادارو کې ښځې په انفرادي او ګروپي شکل تر ټولو له پامه غورځېدلې دي، نو له همدې امله خو ددغو جوړښتیزو ادارو ته د جندر د ور انتقالولو امکاناتو فکټورونه باید څرګند کړل شي. د هېواد دغه اوسنی سیاسي فرهنګ د جندر تعادل ساتنې په پلوی کار ته د یوه داسې حرکت په سترګه ګوري  چې قانونیت او د هېواد پاېښت ته ګواښ پېښوي. دغه کار یوازې او یوازې په کاغذونو کې د بدلون را وستلو پورې منحصر دی نه دا چې ښځو ته په حقیقت کې د ځواک انتقالولو پورې. په یو شمېر ولایتونو کې، په ټولیزه توګه د ښځو چارو وزارت ډېر کمزوری دی، چې د ښځو کوم یوه ګروپ ته او یا هم د مدني ټولنې مؤسسو او یا هم په خپله د ښځو د چارو وزارت ریاست ته د مرستو وړاندیز وکړي. په خپله د ښځو چارو وزارت د مدني ټولنې مؤسسو ته اړتیا لري، چې پروګرامونه تطبیق کړي، د مدني تعلیماتو پروګرامونه وړاندې کړي او په دې اړه چې په سیمه ییزه کچه څه پېښېږي– په اړه مفکورې او نظرونه را ټول کړي. د مدني ټولنې ځینې مؤسسې د ښځو د چارو له وزارت سره نږدې اړیکې لري، دا ځکه چې د مرستندویو ټولنو څخه ځینې یې مرستې د ښځوچارو د وزارت له لارې ورکوي. په هر هېواد کې د جندر تعادل په پلوۍ د کار کولو د توان ارزونې په لړ کې تر ټولو مهم فکتور یې د سیمه ییزو ښځینه حرکتونو طبیعت او پیاوړتیا ده. د افغانستان له حالت سره سم د ښځو د اتحادیو چټکه پلانګزاري به زیات شمېر مؤسسې را برالا کړي او د نادولتي مؤسسو/ د مدني ټولنې د مؤسسو د قراردادي موډل په حیث به مرستندویو ټولنو ته ځواب ویونکې وي. په حقیقت کې، ډېره ستونزمنه برېښي چې په افغانستان کې د نورو هېوادونو په څېر د ښځو داسې حرکت ومومو چې تړلی او مرتبط وي، دا ځکه چې د ښځو د ګروپونو او د انفرادي ښځینه فعالانو بیان شوې هیلې یو تر بله ډېرې متفاوتې او مختلفې دي.

معمولاً ښځې په انفرادي توګه او ښځې په کورنیو کې، د عامه ژوند فعالې استازې نه دي، بلکې دوی ته باید د کورنۍ د نارینه وو او زړو ښځو له خوا – په ښوونځي، کاري ساحه، ټولنه او داسې نورو ځایونو کې مخکې تر دې چې خبرې وکړي او یا کوم عمل ترسره کړي– اجازه ورکړل شي، د ځای ځایګی بندوبست یې وشي او موکه ور کړل

شي. حتا تر دې پورې چې ددوی د مراجعې نقطه ښايي يو نارينه وي. د هغو متقابلو اغېزو له مخې چې ښځو په خپلو کورنيو کې تجربه ترې ترلاسه کړې ده، دوی په خپلو سترګو ددغو متقابلو اغېزو پرېوتل ګوري، دوی پوهېږي چې څه ډول بهرنی چاپېريال وځاري او څه ډول په دغه چاپېريال کې خپل خوځښت محدود کړي، چې په دې توګه له سزا او جزا څخه ځانونه خوندي کړي. يوازې هغه ممتازې ښځې کولی شي چې په دغه سيستم کې خپل مورچل ټينګ کړي. لومړنی او تر ټولو اساسي چاپېريال د جندر د متقابلو اغېزو له پاره کورنۍ ده. کورنی جوړښت او وفاداري کولی شي د ملاتړ ستر غبرګون را منځته کړي، خو په همدې توګه ښايي ښځې تر فشار لاندې او وروسته پاتې شي. په داسې زياتو پېښو کې، په ځانګړې توګه پلار او بيا مېړه، د ښځو ملاتړي او ورسره شريک وي، نه دا چې له هغوی څخه لرې، هغوی کنټرولوي او يا جزا ورکوي، په دغسې صورتونو کې د ښځو پايلې ډېرې مثبتې او حيرانوونکې دي. ښځې کولی شي تر ټولو غوره کارونه ترسره کړي، که چېرې دوی ته د ژوند په لومړيو مرحلو کې د هغوی د خپلځاني وړتياوو په اړه باور او اعتماد ورکړل شي. دا په دې معنی ده چې هغه معلمان، د تقليد وړ موډلونه او چارواکي چې د ښځو خپلځاني باور او اعتماد له منځه وړي، بايد وپېژندل شي او په هغوی کې نفوذ وشي.

په تر ټولو اساسي کچه، افغان نارينه او ښځينه په نادره توګه په انفرادي ډول فعاليت کوي، بلکې زياتره وختونه په غوره توګه د را منځته شوي هغه سيستم چې واکداري يې د نارينه وو په لاس کې وي د مراجعينو په حيث چې په دغه سيستم کې د کورنۍ پلارولي او مېړه والی، مشران، مرستندويې ټولنې، او داسې نور په کې شامل وي، فعاليت کوي. پاک حساب زياتره وخت ځواکمنو نارينه وو ته مخ پر پورته خوا او ځينې وختونه ښځينه وو ته ورکول کېږي، او ډېر کم وختونه داسې پېښېږي چې دغه حساب کتاب د مراتبو په سلسله کې له پورته خوا مخ پر ځوړ وي. د ښځو تر ټولو ستره وېره او ترهه داده چې له کورنۍ او ټولنې څخه تجريد او ونه رټل شي، او پر دې سربېره خپل مراجعين له لاسه ور نه کړي. دا ټول د افغانستان د کلتوري سيستم له مخې چې د هغو په وسيله هغې ښځې ته چې غواړي په خپله خوښه ژوند ژواک وکړي هېڅ ډول اجازه نه ورکوي او نه يې هم هېڅ ډول حمايت او ساتنه کوي. په ټولنيزه توګه د قبوليت اړتيا په ژوره توګه يوه ذاتي

موضوع ده چې ښځې به دا خطر په ځان قبول نه کړي چې " پروا نه لري چې دوی هر ډول وي خو په خپلو کورنیو پورې دې تړلې وي" (جلال ۱۹۹۱).
نران به هم له ټولنې څخه د تجرید او په ټولنه کې د استهزا له خطر سره مخ شي، که دوی له دغه سیستم سره په خبرو ټکر وکړي او یا د هغې ښځې چې له دغه سیستم څخه یې سرغړونه کړې وي په سزا رسولو څخه انکار وکړي. د زیاترو مختلفو دلیلونو له مخې، د ټولنیز کېدلو په بهیر کې یوه افغانه نجلۍ داسې پیغامونه ترلاسه کوي چې هغه هرو مرو باید خپل موجودیت څرګند کړي او په ټولنه کې د خپل دوه واري او ستونزمن کار په سرته رسولو سره خپل ارزښت په ثبوت ورسوي او دا چې ددې ټول اعمال به په مستقیمه او غیر مستقیمه توګه ددې کورنۍ او ډېر کم نومورې ته ګټې رسوي. ښځې تل د زیات شمېر کارونو او تر اوږدې مودې پورې کار کولو مسؤولیتونه لري، یعنې کله چې د کورنۍ نور غړي ویده هم شي ددوی مسؤولیتونه دوام مومي. په حقیقت کې یو مینه ناک تصور داسې هم شته هر څومره زیات چې د کور مېرمنې کار کوي په هماغې اندازه نارینه ګان ور باندې فخر کوي او ورسره ورسره ښه برخورد کوي.
متأسفانه، په زیاترو کورنیو کې جندر اړیکې د تاوتریخوالي، بې عدالتۍ او ښځو ته د حق نه ورکولو پر بنسټ ولاړې دي. ښځې په ټولیزه توګه کله چې له تاوتریخوالي سره مخ شي د تېښتې لاره نه لري او نه هم د مقاومت توان لري. ځکه خو ځان وژني او یا هم ځان قرباني کولو ته د مقاومت په دود غاړه ږدي. دلته یو پراخ تصور داسې دی چې د ښځې تعلیم او کار تر دې مهاله پورې ښځې ته دا ګټه نه رسوي چې خپل او د خپلو لوڼو راتلونکی په خپله وټاکي. قانوني سیستم رنځور ډوله دی، او نه شي کولی هغه فشارونه چې د کورني ژوند په چاپېریال کې په ښځو شته دي، له مخې لرې کړي. غیر رسمي قانوني سیستم د نارینه وو جرګې دي چې په دې هلو ځلو کې دي چې له کورنیو هغو مشاجرو څخه چې ښځې په کې شاملې وي، لاس په سر شي. چې دغه کار په شدیده توګه ددې لامل ګرځي چې یوه عامه ښځه هغه مهال چې په یوه کورنۍ لانجه کې ښکېل وي عدالت ته لاس رسي ونه لري او نه هم له منځګړیتوب او حکمیت څخه برخمنه شي. دغه موضوعات چې پاس ورباندې بحث وشو، په داسې یوه هېواد لکه افغانستان کې د کورني ځواک تصور او مفهوم په واضحه توګه څرګندوي. کورنۍ او قیدونه او شرطونه یې تقریباً

د تقدس درجې ته رسېدلي دي او هغه خلک ډېرې زړورتیا ته اړتیا لري چې غواړي د نورو په کورنیو چارو کې لاس وهنه وکړي.
افغاني ښځې په خپلو ټولنیزو رولونو کې دوی د خپلو کورنیو محرکه قوه په مکرره توګه منعکسوي، چې په دې توګه زیاتره وخت دغه کورنۍ محرکه د جندر اړیکو قوه ددوی په کاري چاپېریال کې له نارینه وو او ښځینه وو همکارانو سره ددوی د اړیکو له لارې، تکثر کوي. ښځې په یوه نه جلا کېدونکي ډول ددوی له پاره د په نظر کې نیول شوي راتلونکي او په مختلفو کچو د جندر د جریانسازۍ د فکر شوي حالت له پاره له خپلو کورنیو سره تړل شوې دي. نو پر دې اساس، په جندر اړیکو کې د ژور فکر بدلونونه له پخوا څخه د ټولنیزو بدلونونو له امله موجود دي، "چې منفي او مثبتې اغېزې یې نه یوازې پر خپله د ښځو په امانتکارۍ، عزت او احترام او سیکالوژۍ باندې دی، بلکې ددوی په کورنیو، ټولنو او په ټولیزه توګه په افغان ملت باندې مرتبېږي." (آذربایجاني —مقدم ۲۰۰۶م ). سرې او ښځې دې ته اړتیا لري چې په کاري ساحه کې د نویو تیاریو په لړ کې د محرکې قوې له پاره کار وکړي او وروسته یې په خپلو کورنیو کې ورڅخه استفاده وکړي.

## لومړنۍ ښځې[3]

د دواړو ایډوارډز (۱۹۹۶م) او ګریما ۱۹۹۸م) په وینا: د افغانستان او د هغوی د ګاونډیو هېوادونو د احترام وړ سیستم په د ننه کې د خپلځاني اظهار او ټولنیز رضایت تر منځ یو پایښتیز بحران او فشار موجود دی. ښځې له دغو فشارونو سره نا اشنا نه دي او تل ددغو دواړو افراطونو تر منځ ځپېږي: له خپلې لارې چپېږي چې څوک یې ونه ګوري او یا دا چې په عامو وګړو کې د خلکو پام ځان ته را اړوي او په خلکو ځان ګوري. په یوه بڼه هغه ښځې د احترام وړ بلل کېږي چې د نارینه وو هر ډول پاملرنې رد کړي. او په بل منظر کې بیا لومړنۍ ښځې دي. په نارمل حالاتو کې افغانستان هېڅ لومړنۍ ښځې نه لري. د کرزي او د هغه د کابینې د وزیرانو ښځې په ډېره نادره توګه لیدل کېږي چې دغه کار د لیدلو د منظر پای دی، خو دلته زیاتره داسې ښځې شته چې د خپلو کورنیو له

---

[3] – لومړنۍ ښځه د هېواد د جمهور ریس او یا هم د ښار د سترو شخصیتونو ښځې ته وایي.

امتیاز څخه په ګټه اخیستنه غواړي ځانونو ته په ټولنه کې خپل ځای حک کړي. همدا راز دلته داسې ښځې هم شته چې د طالبانو له سقوط سره سم یې مرستندویې اداري چلولې یا یې کار په کې کاوه، او د نیمې شپې د ستورو په شان وځلېدلې کله چې په رسنیو کې د ښځو بده ورځ مشهوره موضوع وګرځېده. دغه پېښه یا پدیده ددې لامل وګرځېده چې ځینې هغه لومړنۍ ښځې را پورته شي او بشري او په وروستیو کې بیا سیاسي مقام د خپلځاني ګټو په خوندي کولو کې وکاروي – نه دا چې د ښځو د ستراتیژیکو هیلو او غوښتنو د ترسره کېدا په اړه کار وکړي. دغه روایت چې د لومړنیو ښځو ملاتړ دې وشي، ددې لامل وګرځېد چې یوه ښځه دې باید کارمنده وي – یعنې هغه څوک چې په ابهام کې وي او له یوه لوري د مساواتو او عدالت تر منځ غوښتنو ته بدلون ورکوي، او له بلې خوا کلتوري مقرراتو او قیدونو ته او هغو نارینه وو ته چې ددوی واکداري او ساتنه کوي غوړه مالي او یا د یوې وسیلې په توګه ګټې ور رسوي. دغې پدیدې داسې ستونزې را پیدا کړې چې لومړنۍ ښځې زیاترو ځوانو ښځو ته نمونه یا موډل وګرځېدلې، چې هره یوه یې ددغه ډول رهبرۍ له ټولو ګټو سره د غوښتنو هیلې په زړونو کې پالي.

## ښځې په ګروپونو کې

زیاتره د مدني ټولنې مؤسسې، نادولتي مؤسسې او نادولتي نړیوالې مؤسسې په دې خبره ټینګار کوي چې د ښځو را ټولول یوه مهم فعالیت دی او په مختلفو بهانو ښځې را ټولوي چې په دې توګه مرستې ترلاسه کړي. په افغاني ټولنه کې تر دې مهاله پورې په ګروپونو کې د ښځو د را غونډېدو مخالفتونه شته دي. په داسې حال کې یو پر بل اغېز پرېوتل بې ګټې وي، د ښځو غونډې مجرب خوځښت او تیارونې او ځارنې ته اړتیا لري چې په دې توګه له ټولنیزو غونډو څخه د مدني ټولنې او یا هم د ټولنبنسټو غونډو او حرکتونو پر خوا وخوځېږي. د کلیوالي ښځو د غونډو له څېړنې څرګندېږي چې یو لړمهم موضوعات یې را برالا کړي دي. د ښځو له پاره ټول ټال فعالیت داسې دی چې باید په کورنیو ګروپونو او هغه فعالیتونه چې د ټولنې له قیوداتو سره سم وي باید ترسره کړي. غونډې باید په داسې یوه ځای کې چې د سیمه ییزو منل شوو ژمنو سره سم وي ترسره شي. کورنۍ بندشونه د ښځو په هیلو او امیدونو برتري لري. د ښځو دا بې میلي چې نه غواړي په پروژوي فعالیتونو کې ګډون وکړي او یا هم د ښځو په ګروپ ورګډې شي، ښایي نور

ډېر څه د کورنیو تر منځ او د ټولنې په اوسنیو اړیکو کې کار وکړل شي، نه دا چې د ښځو د را ټولېدو په اړه له کلیشه یي یا دودیز برخورد څخه کار واخیستل شي.
د ښځو خپل وخت په پاشلي او متفرق ډول مصرفېږي. له هغوی داسې هیله کېږي چې د تولدي[4] او تولیدي دندو په تړاو مشخصې دندې په معین وخت کې ترسره کړي، او که داسې ونه کړي نو له ژبني نصیحت او یا به هم له فزیکي وهلو ټکولو سره مخامخ شي. دوی په ثابته توګه له دغو دندو څخه باید لرې شي چې بیا وکړی شي نورو دندو ته ولاړې شي. په معمولي ډول، په هر حال د ښځو له پاره په ټولنیزو مسایلو کار کول د یوه نارمل برخورد په توګه په نظر کې نه دي نیول شوي. ښځې باید هرو مرو د هرې ورځې کورنیو چارو په اړه تصمیمونه ونیسي او دوی په حقیقت کې منیجرانې (مدیرانې) دي. ښځې په حقیقت کې د کورنۍ د اوسني برحال حالت د ساتنې سمه نیمه پایښتیزه قوه ده. دا ډېره کمه تر سترګو کېږي چې دوی په کورنیو کې داسې تنظیم را منځته کړي چې موجودو جندر اړیکو ته چلینج ورکړي او دا چې ددغه ډول کار د ترسره کېدو له مخې د جرم او شرم له احساس سره مخ شي. ښځې ددې هیلې لري چې د مستحکمو مسایلو د تنظیم په اړه کار وکړي کومې چې ددوی په ژوندونو اغېزې پرېباسي او په کورنۍ کې ددوی د ژوند حالت بدلوي. دوی تر رواني فشار لاندې دي او د تل په څېر نه شي کولی د جندر اړیکو په اړه خپلې پرېشانۍ په شفاهي او مستقیمه توګه نارینه وو ته ووایي، او نارینه ګان هم ددغو پرېشانیو په اړه جدي نه دي. کله چې ښځې له نارینه وو سره مخامخ شي، نو ښایي هغه ډول قاطعیت ونه لري، دا ځکه چې ددوی ټولنیزوالی له زېږون څخه بیا تر دې دمه پورې د نارینه وو برتري او لوړتیا منلې ده، او نارینه وو ته یې اجازه ورکړې ده چې ددوی اواز پورته کړي، ددوی څخه یې دا حق اخیستی چې ددوی په

۴ – د جندر تولدي رول کې د ماشوم زېږول، د ماشوم روزل، مسؤولیتونه او کورنۍ دندې شاملې دي چې د ښځې په وسیله ترسره کېږي، او ښځې مجبورې مکلفې دي چې د کورساتنې، او د کاري ځواک د زېږون تضمین ورکړي. دغه رول نه یوازې پر بیولوژیکي تولد پورې منحصر دی، بلکې د کاري ځواک (مېړه او کاریګرو اولادونو) برحال ساتنه او پالنه، او د راتلونکي کاري ځواک (تي خورو او ښوونځي ته تلونکو ماشومانو) ساتنه او پالنه هم په کې شامل دي. د جندر تولیدي رول هغه دی چې د ښځې او نارینه له خوا د نغدو پیسو او یا د پیسو معادل شي په بدل کې ترسره کېږي. په دغه رول کې د بازار د تولید د ادلون بدلون ارزښت، اعاشه/ کورنی تولید د استعمال له حقیقي ارزښت سره، او همدا راز د استعداد د ادلون بدلون په ارزښت تلل کېږي. دغه رول په زراعتي تولیداتو کې د آزادو بزګرانو ښځو، کلیوالي ښځو او روزمزد کارو ښځو له پاره ورکړل شوی دی.

استازیتوب فکر او خبرې وکړي. زیاتره زړې ښځې د وړاندیزونو، نظراتو او د ژوند د کیسو په وړاندې کولو کې وړاندې والی کوي.
ښځې ښايي د مختلف ډوله فعالیتونو په خاطر را غونډې شي. خواړه، د خوړو تیارول او مېلمه پالنه د غونډو او ټولنیزوالي یو مهم فکتور دی. د مدني ټولنې د مؤسسو او نورو له پاره چې غواړي ښځې را ټولې کړي، نو د خوړو تیارولو او مېلمه پالنې قابلیت ورته ډېر مهم دی. نارینه تل د ښځو را ټولېدو ته د یوې ستونزې په حیث ګوري، دا ځکه چې دوی فکر کوي چې ښځې ښايي له دوی سره رقابت را واخلي او یا هم ښايي دوی له ناوړه خلکو او افکارو سره اشنا شي. نارینه ګان تر هغه وخته پورې ښځې بې زړه کوي چې مجلسونو او غونډو کې ګډون ونه کړي تر څو چې دا د ټولنیز حیثیت له مخې ورته مهمه وي، او یا تر هغې چې دغه مجلس یا غونډه به ښځو ته د ګټو لکه د وړیا توکو وېشلو باندې او یا دې قابلیت باندې چې یو عاید ترلاسه کړي، پای ته رسېږي. د پورتنیو ټولو فکتورونو او خنډونو سره سره چې د ښځو د مجلسونو د ابهام په پایله او په ډېر طبیعي او روان حالت تمامېږي. په عایداتي تولیدي پروژو کې د ښځو را غونډېدل به تر هغې په داسې قوي معلوماتي سرچینو او مزبوتو تړل شوو ګروپونو باندې وانه ړول شي، تر څو چې د فکري سنجش داسې لارې چارې په کار وانه چول شي چې ښځې دې ته وهڅوي چې اعتماد او باور وکړي او له نورو ښځو سره پېژندګلوي وکړي. ښځې اوسمهال له دې سره ټولنیز خوی اخیستی چې د خپلو نارینه وو د خپلوانو اطاعت وکړي، ښايي د دوی د میندو او یا هم د هغوی د خوابنې ګانو. په ولسي او اساسي کچه د ښځو ذاتي مؤسسې د کورنیو رقابتونو او ټولنیزو موانعو او د اضافي وخت د کمښت او دې ته ورته نورو له مخې چې د ښځو تر منځ د هر ډول پیوستون د احساس مزي شلوي، له امله نه شته دي.

## په ادارو او مؤسسو کې جندر

د نادولتي مؤسسو او د مدني ټولنې د مؤسسو ظهور د ساړه جنګ په پایله کې، یعنې په کال ۱۹۸۹م کې چې روسي لښکرو افغانستان پرېښود، نو د افغانستان له پاره د مرستندویو ټولنو مرستې له سره پیل شوې، او یو شمېر نړیوالو نادولتي مؤسسو ځینې سیمه ییز کار کوونکي را میدان ته کړل چې نوې سیمه ییزې انجوګانې تأسیس کړي. په

دې هلو ځلو کې چې ملي ګډون ونډه د هېواد د هوساینې او بیا رغونې په بهیر کې زیاته کړل شي، چې د روسانو له وتلو څخه وروسته یې هیلې کېدلې، زیاترو ادارو او مرستندویو ټولنو د سیمه ییزو همکارانو د ظرفیت لوړولو او د نوو انجوګانو تأسیسولو (چې له معمول سره سم د نارینه وو له خوا پر مخ بېول کېدلې) ته د هڅولو متې را بډ وهلې. په دغه مهال کې، ډېره ستونزمنه بریښېده چې کومه ښځه په انجو کې په دنده وګمارل شي، ځکه د افغانستان دود او عنعناتو ته پابند روشونه په دغه وخت کې د یوه منل شوي اصل په توګه پیاده وو. په لومړي سر کې جندر یوه ډېره حساسه موضوع وه او یوازینۍ لاره چې له ښځو سره کار وشي او ښځو ته یې ګټې ورسېږي هغه تر ټولو حاجتمنو ښځو لکه له کونډو سره مرسته وه. د ۱۹۹۰مو کلونو پر مهال ښځو په پراخه کچه انجوګانو او د ملګرو ملتونو دفترونو او نورو ورته دفترونو ته د داخلېدلو لاره وموندله، او دغو دفترونو زیات شمېر ښځې – ښځو ته د رسېدو په موخه جذب کړې. دغو ښځو ته مهارتونه ور انتقال شول او له اساسي مفهومونو لکه جندر او د ښځو له حقونو سره یې اشنايي پیدا کړه. په ناڅاپي توګه د افغان ښځینه انجوګانو یو صنف یا کدر را منځته شو او په مناسب وخت کې ښځینه افرادو د وړو ښځینه انجوګانو د را منځته کېدا میدان ته را ودانګل. په لومړي سر کې د ښځو انجوګانو له بهرنیو ښځینه مؤسسو او یا هم د ملګرو ملتونو له سترو ادارو څخه مرستې ترلاسه کولې. مرستندویې ټولنې زیاترې اساسي مرستې هغو انجوګانو ته چې د نارینه وو له خوا اداره کېږي ورکوي، چې ځینې یې په ډېره چټکۍ پراخې شوې.

په نویمه لسیزه کې د طالبانو راتګ د جندر مسأله یوه تېز حالت ته راوستله چې ټول تمرکز یې په نجونو و، یعنې ښوونځي بند شول، په کابل کې ښځې په زور دې ته اړې شوې چې چادرۍ په سر کړي، او د ښځو خوځښت محدود وګرځول شو. مرستندویو ټولنو همدا ډول هڅې پیل کړې چې جندر موضوع ته په پروژو کې زیاته پاملرنه وشي. د طالبانو پر وخت ښځې د روغتیا پالنې، د کورنیو ښوونځیو او په نادولتي جلا دفترونو کې د وړو کارونو ترسره کولو پورې محدودې وې. تقریباً ټولو ښځینه مؤسسو په پاکستان کې د مهاجرینو په کمپونو کې کار کاوه. په ۲۰۰۱م کال کې د طالبانو له سقوط وروسته، په جندر تمرکز تر ټولو زیات و. په هغه وخت کې زیاتره مرستندویه ټولنې د افغان ښځینه مؤسسو په موجودیت له سره خبرې نه وې، نو له همدې امله د نارینه وو له

خوا اداره کېدونکو مؤسسو زياتې ښځې جذب کړې او په دې توګه يې زياتې مرستې ترلاسه کړې. مرستندويو ټولنو په مختلفو لارو چارو ښځينه مدني مؤسسې په مدني ټولنه کې د ننه د ښځو د کمزوري او مات شوي حرکت له مخې په دې هيله را مخکې کړې چې دغه مؤسسې د ښځو د حقونو له پاره کار کوي او په ډېره ساده او اسانه توګه کولی شي ښځو ته لاسرسي پيدا کړي او د ښځو په ټولنه کې خپلې پروژې تطبيق کړي. اټکل کېږي چې د ښځينه مدني مؤسسو سره مالي مرستې، چې په ټوليزه توګه د مالي مرستو د ترلاسه کولو له پاره په مقابله کې دي، ښايي د ښځو حرکت و رغوي او پياوړی يې کړي. زياتره لومړنۍ ښځې د مدني ټولنې مؤسسې لري، چې په عادي توګه د ښاريتوب د سابقې له مخې را منځته شوې دي. د مدني ټولنې د مؤسسې له پاره موډل يا نمونه زياتره وخت هغه يوه ده چې په شخصيت –را څرخي او په شديده توګه د يوه شخص يا ددغه شخص د کورنۍ او متحدانو څخه يې يو تن کنټرولوي. دغه مؤسسې په ډېره نادره توګه سرچينې او وخت ترلاسه کوي چې ټولنيز مرکزيت را منځته او د خپل په نخښنه شوي ګروپ تر منځ پياوړی اتحادي احساس را ژوندی کړي. د کارکوونکو پرمختګ، استازيتوب او د ځواک شريکول هم د ځينو له پاره د خطر د زنګ حيثيت لري.

که څه هم د کابل په موجوده حالاتو د لومړنيو ښځو مقام ته ډېرې سترګې ور اوړي داسې يوه واسطه ده چې له نړيوالې ټولنې سره اړيکې پرې ټينګېږي، نو دغه کار بايد د ښځينه مدني مؤسسو او يا هم د ښځينه حرکتونو د پرمختګ د يوه شاخص په توګه ونه نيول شي.  په کراتو مراتو يو ځل بيا، د زياترو هېوادونو په تاريخ کې، د ښځو ممتازو ډلو او ګروپونو ته د ځواک کمه برخه د ستر ظهور په بنه د تر ټولو ځواکمنو نارينه وو له خوا د خپلو اجنداوو د پلي کېدا په خاطر ورکړل شوې ده. لومړنۍ ښځې په ډېره نادره توګه د آزادۍ د هغو خوځښتونو پلوي کوي چې د نورو ښځو له خوا را منځته شوي وي. د تجربې نه لرل او د پور شوي ځواک له مخې کار کولو له مخې، دوی د مهارتونو او صلاحيت له کمښت سره مخ دي چې ښځې په نورو ټولنيزو– اقتصادي ډلو کې ځواکمنې کړي، او ددې کار پر ځای له دغه توان څخه د خپلځاني مقام د ساتنې په حيث کار اخلي. د نارينه مدني مؤسسو او ښځينه مدني مؤسسو له پاره دا تر ټولو معمول موډل دی. له نېکه مرغه، يو شمېر مؤسسې شته چې دغه موډل نه کاروی، خو ددوی تعداد ډېر کم دی.  ددغه ډول مؤسسو ريسانو، ښځو او نرو، خپل ارزښتونه او ژمنې د خپل کار په

وړاندې څرګندې کړې دي، چې ددوی کارکوونکي ترې اغېزمن شوي دي. دغه ډول مؤسسې تر شا یوه سرمایه پرېږدي او خپل کار ته حتا په هغه صورت کې هم دوام ورکوي چې ددوی ریس یې کنټرول پرېږدي.

## ښځې په شبکو کې

نارینه ګان د شبکه جوړونې په اړه فکر کوي چې ضروري کار دی. خوځښت او دا توان چې په اسانۍ سره په نورو نارینه وو او حتی د ضرورت پر وخت په ښځو متقابلې اغېزې وښندي، د شبکې له لارې آسانه کېږي. که څه هم، د ښځو مؤسسو، په ډېره نادره توګه ددې لېوالتیا ښودله چې له نورو هغو مؤسسو سره چې دوی یې د شخصي رقیبانو په حیث انګېري شبکه جوړه کړي. د اقتصادي پرېوتي او کمزوري حالت له مخې، نړدې ټولې شبکې او متقابلې اغېزې چې د مدني ټولنې مؤسسې یې یو پر بل لري، د یوه ژور بهرني طبیعت بڼه نیسي، چې د ښځو او ددوی د ګروپونو تر منځ د یووالي او اتحاد د جوړېدا مخه نیسي. د ښځو د فعالیتونو له پاره د مرستندویو ټولنو مرستې هم تر یوه حده پورې محدودې دي، دا ځکه چې هره بله مؤسسه او فرد یو د بل په مقابل کې د محرک رقیب په حیث دي. د شبکې رغونې ستراتیژیکې ګټې د ښځو له پاره څرګندې نه دي. دا یو مناسب وخت دی چې ښځینه افغانانې چې د نارینه وو له خوا د پېړیو پېړیو زاړه دود او دستور له مخې ورته لارښوونه کېږي او هڅول کېږي، باید دغه دستور په نوي او بدل شوي دستور چې د جندر مسایلو په اړه دی واړول شي.

## د ښځو او نرو جندر اړیکې

په دغه برخه کې د مرکه شوو خلکو له خوا په ورکړل شوو معلوماتو او ددوی پر کړو وړو باندې په مختصره توګه رڼا اچول کېږي.

د مدني ټولنې په مؤسسو کې د ننه او تر منځ یې جندر اړیکې: په ټوله نړۍ کې د جنسونو تر منځ سیالۍ رواني دي خو دغه سیالۍ بیا په افغانستان کې تر ټولو زیاتې او پرمختللې دي. نارینه ګان د جندر تبعیض له نړیوالو په ځانګړې توګه د مرستندیو ټولنو له خوا د مدني ټولنې په مؤسسو کې د ښځو او مدني ښځینه مؤسسو په ملاتړ انګېري. د پروژو د پلي کولو له پاره د مرستو د ترلاسه کولو په بې ساري توګه تمرکز کېږي، ځکه

چې دغه کار د ټولنې د غوره پاملرنې او ملاتړ د را اړولو له پاره بنسټ بلل کېږي، چې له همدې امله د ډېر اعتبار او ځواک د پیل ټکی هم ګڼل کېږي. د مالي مرستو بهیر پاشلی او له ستونزو ډک دی، لکه د نا مهربانه مرستندویان، دروازه ساتونکي افراد او درغلي یې په مخ کې خنډونه دي. له دې سره سره نارینه ګان فکر کوي چې اوسمهال ښځې په دغه چاره کې پرې لاسبرې دي، او ښځې بیا په دې فکر دي چې نارینه ګان د مالي مرستو په ترلاسه کولو کې تر دوی مخکې دي، دا ځکه چې ددوی کورني مسؤولیتونه کم دي او په ټولنه کې خوځښت لري. د ښځو او همدا راز په ټولیزه توګه د مدني ټولنې د مؤسسو تر منځ د اتحاد او یووالي د راتللو په مخ کې تر ټولو ستر خنډ د مالي مرستو د ترلاسه کولو سیالي ده. افغان نارینه ګان د مثبت تمایل په اړه په غوصه دي، او دغه کار ته د یوه داسې چارې په سترګه ګوري چې ددوی د کلتور او اخلاقیاتو پرخلاف د بهرنیانو له خوا پرې تپل کېږي. ښځې بیا د جندر تبعیض د نارینه حاکمیت ټولنې څخه ددوی د مؤسسو پر وړاندې ویني. زیاتره وخت ښځینه کارمندانې په یوه مؤسسه کې استثمارېږي او یا هم له کاره ګوښه کېږي. د ښځو د کاري ظرفیت کچه په کافي اندازه نه ده لوړه شوې، ځکه خو دوی  د مدني ټولنې د مؤسسو/ انجوګانو د فعالیتونو اصلي مسیر ته په راګرځولو کې نه دي ور ګډې شوې. د مدني ټولنې هغه مؤسسې چې د نارینه وو له خوا اداره کېږي، زیاتره وخت داسې ښځینه کارمندانې په دندو ګوماري، چې تجربې یې کمې وي او نه شي کولی جندر مسایل او یا هم معمولاً د ښځو حقونه په مهارت او مناسبه طریقه پر مخ بوزي. نارینه ګان په مؤسسه او پروګرامونو کې د جندر مسؤولیت په غاړه نه اخلي.

هغه ځوانې ښځې چې د مسلکي وړتیاوو او تجربو د ترلاسه کولو له پاره هلې ځلې کوي، له ډېرو سختو شرایطو سره مخ کېږي. دوی کېدای شي هغو د مدني ټولنې مؤسسو ته چې د ښځینه شخصیتونو له خوا اداره کېږي د ډېر کم مزد په مقابل کې داخل شي او کار وکړي، او یا دا چې د نارینه وو له خوا اداره کېدونکو انجوګانو ته د داخلېدو خطر قبول کړي چې کېدای شي دوی په پټه توګه د بدنامیو له روش او خېګان سره مخ شي. همدا راز داسې مثبتې تګلارې هم شته چې په ډېرېدونکې توګه مؤسسې چې د ښځینه کارمندانو د لرلو ژمنې دي، د مختلفو دلیلونو له مخې په فعاله توګه ځوانو ښځو ته د

رسېدو په اړه مذاکرات او هلې ځلې کوي، چې داسې وضعیت ددوی له پاره را منځته کړي چې د کورنیو له فشار پرته کار وکړي. د جندر اړیکو له مخې:
د ښځو او نرو تر منځ او همدا راز د ښځو تر منځ ستر رقابتونه شته دي. د نارینه وو تر منځ دومره شدید رقابتونه نشته.
اوسمهال داسې ښکارېږي چې د نارینه وو او ښځینه وو په مؤسسو کې کمه لېوالتیا او ظرفیت وي چې له یو بل سره اتحاد وکړي او په پالیسۍ کې د رافعې ټکي او تصمیم نیوونکي شخصیتونه ددې له پاره تشخیص کړي چې د ښځو د حقونو د پرځای کولو له پاره کار وکړي.
ښځې نارینه وو ته په خپله کاري ساحه کې د تخنیکي تجربو لکه محاسبه او یا هم د معلوماتي ټکنالوژۍ په برخو کې اړتیا لري.
د مدني ټولنې هغو مؤسسو ته چې د نارینه وو له خوا اداره کېږي، معمولاً ښځې ددې له پاره نیول کېږي چې په دې وسیله نورو ښځو ته لاسرسي پیدا کړي او د جندر او یا هم ښځو په اړه د کار کولو په برخه کې مالي مرستې ترلاسه کړي.
ښځې نه شي کولی چې خپل مسلکي رول ته ددې اجازه ورکړي چې د دوی په جندر رولونو او په کورنۍ کې ددوی د یوه ښځینه حالت په اړه ډېره زیاته لاس وهنه وکړي.
د نارینه وو له پاره کافي ده چې یوازې د خپلو تولیدي جندر رولونو پورې پاتې شي
ښځینه کارمندانې باید هرو مرو خپلو جندر تولدي رولونو ته په بشپړه توګه دوام ورکړي
ښځې په هغه صورت کې نه شي کولی د مدني ټولنې مؤسسه اداره کړي او یا هم کار په کې وکړي، چې د کورنۍ نارینه ګان ورسره مخالف وي.
د مدني ټولنې مؤسسې د جندر مسایلو(ستونزو) په اړه یو تر بله د مخکې کېدو په سیالیو کې دي.
د ښځینه ریسانو په ځانګړې توګه نارینه کارمندان هڅې کوي چې له نارینه چارواکو شخیصتونو سره ښې اړیکې په ټولنه کې جوړې کړي.
نارینه همکاران خپلې ښځینه همکارانې د اعتماد وړ نه ګڼي، دا ځکه چې دوی د خپلو کورنیو او د جندر تولدي رولونو له امله تر فشار لاندې وي او یا هم له کاره ګوښه کېږي.

د مدني ټولنې هغه مؤسسې چې د نارینه وو او ښځینه وو له خوا اداره کېږي، معمولاً د ښځې په پرمختګ کې (WID) له تګلارې څخه کار اخلي.
د مدني ټولنې په مؤسسو کې زیاتره نارینه ګان او ښځې ښایي لږ او یا هم هېڅ ډول د حساب ورکونې او د مسؤولیت احساس د هغو ښځینه ګټو اخیستونکو پر وړاندې ونه کړي چې دوی کار ورته کوي– ددوی زیاتره بس خپل کار ترسره کوي.
د مدني ټولنې ښځینه مؤسسې نه غواړي چې په زراعت، انجنیرۍ، ښستیزو رغونو، د اوبو رسولو او نورو ورته پروژو کې کار وکړي، دا ځکه چې دغه کاري ساحې د نارینه وو قلمرو ګڼل کېږي.
د مدني ټولنې نارینه مؤسسې ښایي په هغو ساحو کې چې د ښځینه قلمرو ګڼل کېږي کار وکړي.
ځوانې ښځې د خوندي چاپېریال په میندلو کې له ستونزو سره مخامخ شي چې په هغه کې مسلکي تجربې ترلاسه کړي.
د مشاور د لیدنو او کتنو پر بنسټ، د مدني ټولنې زیاتره ښځینه مؤسسې د نارینه وو پر مؤسسو د همغږۍ او همکارۍ اعتماد او باور نه کوي.

## نارینه ګان(او ښځې) په جرګو کې[5]

په افغانستان کې جرګه د مدني ټولنې د مؤسسو یوه بله نمونه یا موډل دی. جرګه په داوطلبه توګه د ګډون کولو پر بنسټ ولاړه ده، خو دا خبره په کې منل شوې ده چې غړیتوب یې ښایي زیاتې ګټې لکه د مقام، ځواک او نورو فرصتونو زیاتوالی ولري. په پخوا وختونو کې جرګې په ټولیزه توګه د خوځنده او طبیعي مؤسسو په بڼه موجودې وې، چې د جرګې غړي به په عنعنوي توګه د بهرنیو لاس وهنو او د غیر مترقبه حالتونو په مقابل کې سره را غونډېدل او پرېکړې به یې کولې. ددې مفکورې برعکس چې په افغانستان کې جرګې له پېړیو پېړیو را په دې خوا کار کوي، دغه څېړنه څرګندوي چې د جرګې تاریخ مختلف ډوله او پاشلی دی. د جرګو مختلف ډولونه – د ملکانو ډله، د اشتراکي

*[5] د ریپورټ په دغه برخه کې د مرکه شوو خلکو تقریباً له ټولو لومړي لاس معلوماتو څخه استفاده شوې ده، نه له دویم لاس معلوماتو لکه له کتابونو او پخوانیو څېړنو څخه.*

مرام ملاتړې (کمونیستي) کومېټې، قومي جرګې، مشاورتي جرګې، اتحادي جرګې او داسې نور– را منځته شوې دي او یا هم له منځه تللې دي، او یا هم تر دې دمه پورې شته دي او د بهرني نفوذ د اقتضا او غوښتنې پر بنسټ یې بدلون میندلی. مرستندویو مؤسسو هم د یو لا زیات ولسواک مفهوم په بڼه د جرګې د را منځته کولو تمرین وکړ، چې د ملي پیوستون په پروژه کې د زیات شمېرکلیوالي پرمختیایي جرګو د را منځته کېدلو لامل وګرځېدلې.

